صبا او بېګاه {قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ}، او معوذتين درې درې ځلې وايه، نو د هر څه نه به درته بسنه کوي (د هر شر او افت نه به په امان کې وې)

د عبد الله بن خبيب رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايلي چې: په تياره باراني شپه کې ووتلو، تر څو رسول الله صلى الله عليه وسلم لمونځ راکړي، وايي: پيدا مې کړ، نو ويې فرمايل: «ووايه»، نو ما هيڅ ونه ويېل، بيا يې وويل: «ووايه»، نو ما هيڅ ونه ويېل، بيا يې وفرمايل: «ووايه»، نو ما ووېل: څه ووايم؟ ويې فرمايل ووايه: «صبا او بېګاه {قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ}، او معوذتين درې درې ځلې وايه، نو د هر څه نه به درته بسنه کوي (د هر شر او افت نه به په امان کې وې)».

[صحيح دی] [أبو داود، الترمذي او النسائي روايت کړی دی]

جليل القدر صحابي عبد الله بن خبيب رضي الله عنه خبر ورکوي چې هغوی په يوې تياره او سختې باراني شپه کې د رسول الله صلى الله د پلټنې په موخه ووتل تر څو ورته لمونځ وکړي، نو هغه يې وموند، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:"ووايه" يعني ولوله، نو هغه هيڅ ونه لوستل، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته خپله وينا بيا وکړه، نو عبد الله ووېل: څه ولولم ای د الله رسوله؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د اِلإخلاص سورت {قل هو الله أحد} او معوذتين: {قل أعوذ برب الفلق} او {قل أعوذ برب الناس} صبا او بيګا مهال درې درې ځلې وايه، نو له هر شر او هرې بدۍ نه به دې وساتي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6082